# د حضرت عزرا کِتاب

## پېژندګلو

د حضرت عزرا کِتاب د بنی اِسرائیلو په بابل کښې د جلاوطنۍ د آخری کلونو ذکر کوی، چې کله هغوئ په دوو ډېلو ډلو کښې د قېد نه تقریباً اویا کاله پس خپل وطن ته واپس راغلل. حضرت عزرا د خُدائ پاک کلام سره ډېر وفادار وو. حضرت عزرا ښهٔ په شوق سره د خُدائ پاک د کلام مطالعه کوله او د هغې نه يې عِلم او حکمت حاصل کړو. حضرت عزرا به د خُدائ پاک حُکمونه منل، روژې به يې نيولې او دُعا به يې کوله او د هغه خلقو دپاره يو مثال جوړ شو څوک چې د خُدائ پاک رضا غواړی. د حضرت عزرا کِتاب هلته نه شروع کيږی چرته چې دويم تواريخ ختميږی. څنګه چې حضرت يشعياه نبی پېشګوئې کړې وه چې د فارس بادشاه خورس د زرُبابل په رهنمايۍ کښې هغوئ د حضرت عيسیٰ مسيح نه پينځهٔ سوه اتهٔ دېرش کاله وړاندې يروشلم ته ولېږل. په يهوداه کښې د غېريهوديانو د مخالفت باوجود، او د حضرت حجی پېغمبر او زکرياه پېغمبر د حوصلې نه پس د حضرت عيسیٰ مسيح نه پينځهٔ سوه پينځلس کال وړاندې د خُدائ پاک کور جلاوطنو خلقو دوباره جوړ کړو. بيا حضرت عزرا د دويمې ډلې د جلاوطن خلقو رهنمائی وکړه. هغه وخت چې حضرت عزرا راورسېدو، خلق بيا په ګناه کښې ککړ شوی ؤو. حضرت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عزرا د خُدائ پاک کلام واورولو او خلقو توبه وکړه.
حضرت عزرا کامياب شو ځکه چې د خُدائ پاک لاس په
هغۀ وو. دا کِتاب حضرت عزرا په خپله ليکلے دے، په دې
کښې د خُدائ پاک خپل لوظ سره وفادارى څرګنده ده او
هغه د خپل مقصد پوره کولو دپاره او د خلقو د اصلاح دپاره
بےايمانه بادشاهان استعمالوى. د حفظ کولو دپاره ۴:۱۰ آيت
"اوس پاڅه، دا خبره ستا په لاس کښې ده. مونږ به ستا
ملګرتيا کوُو، نو تکړه شه او دا کار وکړه."

## د خورس بنى اِسرائيلو له د راواپس کېدو حُکم ورکول

١ ۱ په وړومبى کال کښې چې خورس د فارس بادشاه
وو، نو مالِک خُدائ هغه پېشګوئې پوره کړه چې هغۀ د يرمياه
په ذريعه کړې وه. هغۀ د خورس په زړۀ کښې دا خبره
واچوله چې دا فرمان وليکى او جارى يې کړى او خپلې ټولې
بادشاهئ ته يې ولېږى: ۲ "دا د فارس د بادشاه خورس
حُکم دے. مالِک خُدائ، د آسمانونو خُدائ پاک زۀ په ټوله
دُنيا باندې حکمران کړے يم او دا ذمه وارى يې راکړې ده
چې د مالِک خُدائ دپاره په يهوداه کښې د يروشلم په ښار
کښې کور جوړ کړم. ۳ هر څوک چې د هغۀ خلق وى نو
هغه د يهوداه يروشلم ته تلے شئ چې د مالِک خُدائ د بنى
اِسرائيلو خُدائ پاک دپاره يو کور بيا جوړ کړئ، د چا
عبادت چې په يروشلم کښې کيږى. او ستاسو خُدائ پاک دې
ستاسو مل شى. ۴ ژوندى پاتې شوى خلق چې چرته هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسیږی، نو خپل ګاونډیان به ورله په مدد کښې دا څیزونه
ورکړی لکه چې سپین زر، سرهٔ زر، د سفر دپاره توښه، د
سورلۍ ځناور او داسې نذرانې هم چې په یروشلم کښې د
خُدائ پاک په کور کښې پېش کړے شی.“ ۵ بیا د یهوداه
او د بنیامین قبیلو د ډلو مشران، اِمامان او لیویان او هغه نور
ټول تیار شول چې خُدائ پاک د هغوئ زړونه راپاخولی وُو او
په یروشلم کښې د مالِک خُدائ د کور د بیا جوړولو دپاره
لاړل. ۶ د هغوئ ټولو ګاونډیانو د هغوئ مدد وکړو او
هغوئ له یې د سپینو زرو څیزونه، سرهٔ زر، د سفر دپاره
توښه، د سورلۍ دپاره ځناور او قیمتی څیزونه ورکړل، د دې
هر څهٔ نه علاوه رضاکارانه نذرانې یې هم ورکړې. ۷
خورس بادشاه هغوئ له هغه جامونه او پیالۍ واپس ورکړې
چې کومې نبوکدنضر بادشاه په یروشلم کښې د مالِک خُدائ
د کور نه اوړې وې او د خپلو بُتانو په کور کښې یې ایښې
وې. ۸ د فارس بادشاه خورس دا د شاهی خزانې مشر
مِتردات ته حواله کړل، مِتردات د دې نه یو فهرست جوړ
کړو او د یهوداه مشر شیسبضر له ورکړو، ۹-۱۰ د هغه
څیزونو شمېر دا وو: د سرو زرو دېرش جامونه، د سپینو
زرو یو زر جامونه، یو کم دېرش نور ښانکونه، دېرش د سرو
زرو واړهٔ جامونه، څلور سوه او لس د سپینو زرو واړهٔ
جامونه او یو زر نور لوښی. ۱۱ هلته ټول پینځهٔ زره او څلور
سوه د سرو زرو او سپینو زرو لوښی وُو او هغه نور سامان
وو کوم چې شیسبضر په هغه وخت کښې د ځان سره وړے
وو چې کله هغه او نور جلاوطن شوی کسان د بابل نه
یروشلم ته تلل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د جلاوطنۍ نه راواپس شوو خلقو تفصیل

٢ ١ دا د یهودیانو د جلاوطن شوو خلقو تفصیل دے
څوک چې د آزادېدو نه پس واپس خپلو صُوبو ته تلل.
نبوکدنضر بادشاه هغوئ بابل ته قېدیان بوتلي وُو، خو اوس
یروشلم، یهوداه او خپلو نورو ښارونو ته راواپس شول چرته
چې هغوئ مخکښې اوسېدل. ٢ د هغوئ مشران زرُبابل،
یشوَع، نحمیاه، شرایاه، رعلایاه، مردکی، بِلشان، مِسفار،
بِګوئ، رحُوم او بعنه وُو. دا د بنی اِسرائیلو د ډلو تفصیل
دے، دا تفصیل د هغه هرې قبیلې د شمېر سره دے کوم چې
د جلاوطنۍ نه راواپس شوی وُو: ٣-٢٠ د پرعوس د قبیلې
شمېر دوه زره یو سل او دوه اویا کسان، د سفطیاه د قبیلې
شمېر درې سوه او دوه اویا کسان، د ارخ د قبیلې شمېر اووۀ
سوه او پینځۀ اویا کسان، د یشوَع او یوآب د اولاد پخت
موآب د قبیلې شمېر دوه زره اتۀ سوه او دولس کسان، د
عیلام د قبیلې شمېر یو زر دوه سوه او څلور پنځوس کسان،
د زتُو د قبیلې شمېر نهۀ سوه او پینځۀ څلوېښت کسان، د
زکی د قبیلې شمېر اووۀ سوه او شپېتۀ کسان، د بانی د قبیلې
شمېر شپږ سوه او دوه څلوېښت کسان، د ببی د قبیلې شمېر
شپږ سوه او درویشت کسان، د عزجاد د قبیلې شمېر یو زر
دوه سوه او دوویشت کسان، د ادونِقام د قبیلې شمېر شپږ
سوه او شپږ شپېتۀ کسان، د بِګوئ د قبیلې شمېر دوه زره او
شپږ پنځوس کسان، د عدین د قبیلې شمېر څلور سوه او
څلور پنځوس کسان، اطیر چې د هغۀ نوم حزقیاه هم وو د
هغۀ د قبیلې شمېر دوه کم سل کسان، د بِضی د قبیلې شمېر
درې سوه او درویشت کسان، د یوره د قبیلې شمېر یو سل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دولس کسان، د حاشوم د قبيلې شمېر دوه سوه او
درويشت کسان، د جِبار د قبيلې شمېر پينځۀ کم سل کسان.
﴿٢١-٣٥﴾ هغه خلق هم راواپس شول چې د هغوئ پلار نيکۀ په
دې ښارونو کښې اوسېدلى وُو: د بيت‌لحم ښار يو سل او
درويشت کسان، د نطوفه ښار شپږ پنځوس کسان، د عنتوت
ښار يو سل او اتۀويشت کسان، د عزماوت ښار دوه
څلوېښت کسان، د قِريَت‌يعريم، کفيره او بيروت ښارونو
اووۀ سوه او درې څلوېښت کسان، د راما او جبعه ښارونو
شپږ سوه او يوويشت کسان، د مِکماس ښار يو سل او
دوويشت کسان، د بيت‌ايل او عى ښارونو دوه سوه او
درويشت کسان، د نبو ښار دوه پنځوس کسان، د مجبيس
ښار يو سل او شپږ پنځوس کسان، د هغه بل عيلام ښار يو
زر دوه سوه او څلور پنځوس کسان، د حارِم ښار درې سوه
او شل کسان، د لد، حاديد او اونو ښارونو اووۀ سوه
پينځۀويشت کسان، د يريحو ښار درې سوه او پينځۀ
څلوېښت کسان، د سناآه ښار درې زره شپږ سوه او دېرش
کسان. ﴿٣٦-٣٩﴾ دا د اِمامانو د ډلو تفصيل دے چې هغوئ د
جلاوطنۍ نه راواپس شول: د يشوَع د اولاد يدعياه د قبيلې نهۀ
سوه او درې اويا کسان، د اِمير د قبيلې يو زر او دوه پنځوس
کسان، د فشحور د قبيلې يو زر دوه سوه او اووۀ څلوېښت
کسان، د حارِم د قبيلې يو زر او اوولس کسان. ﴿٤٠-٤٢﴾ دا
د ليويانو د قبيلو تفصيل دے چې د جلاوطنۍ نه راواپس
شول: د يشوَع او د قدمى‌ايل خاندان چې د هُوداوياه د اولاد
وو د قبيلې څلور اويا کسان، د آسف د اولاد د مالِک خُدائ
د کور موسيقاران يو سل او اتۀويشت کسان، د سلوم، اطير،
طلمون، عقوب، حطيطا او شوبى د اولاد د مالِک خُدائ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور ځوکیداران یو سل او یو کم څلویښت کسان. ۴۳-۵۴
د مالِک خُدائ د کور د خِدمتګارانو د ډلو تفصيل چې هغوئ
د جلاوطنۍ نه راواپس شول: ضيحا، حسوفا، طبعوت،
قروس، سيعها، فدون، لبانه، حجابه، عقوب، حجاب، شملی،
حنان، جدِيل، جحر، ریایاه، رضين، نقودا، جزام، عُزا،
فاسح، بسئ، اسناه، معُونيم، نفوسيم، بقبوق، حقوفا، حرحُور،
بضلوت، محيدا، حرشاه، برقوس، سِسيرا، تامح، نضياح او
خطيفا. ۵۵-۵۷ دا د سليمان د نوکرانو د ډلو تفصيل دے
چې هغوئ د جلاوطنۍ نه راواپس شول: سوطی، حسوفرت،
فرودا، يعله، درقون، جدِيل، سفطياه، حِطيل، فوکرت‌هضبائم
او امی. ۵۸ د مالِک خُدائ د کور د خِدمتګارانو د اولاد او د
سليمان د نوکرانو د اولاد ټول شمېر اتۀ کم څلور سوه وو
کوم چې د جلاوطنۍ نه راواپس شول. ۵۹-۶۰ د دلاياه،
طوبياه او د نقودا د ډلو شپږ سوه او دوه پنځوس کسان
داسې وُو چې هغوئ د تل ملح، تل حرشا، کروب، ادان او د
اِمير ښارونو نه راواپس شول، خو هغوئ دا نۀ شول ثابتولے
چې هغوئ د بنی اِسرائيلو اولاد دے. ۶۱-۶۲ د اِمامانو دې
ډلو داسې څۀ نسب‌نامه پېدا نۀ کړه چې هغوئ خپل پلار نيکۀ
ثابت کړے وے، حباياه، هقوض او برزلی. د اِمامانو د قبيلې
برزلی پلار نيکۀ د جِلعاد د برزلی د قبيلې يوه ښځه وادۀ کړې
وه او د خپل سخر نوم يې په ځان اېښے وو. نو په دې وجه
هغوئ نۀ شول ثابتولے چې د هغوئ پلار نيکۀ څوک وُو، نو
هغوئ اِمامان نۀ منظوره کېدل. ۶۳ د يهوداه حکمران ورته
وئيلی وُو چې هغوئ تر هغه وخته پورې خُدائ پاک ته پېش
کړے شوے خوراک نۀ شی خوړلے چې ترڅو يو داسې اِمام
نۀ وی چې هغه اُوريم او تميم نه کار واخلی. ۶۴-۶۷ هغه
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول په شمېر کښې دوه څلوېښت زره درې سوه او شپېته
کسان وُو کوم چې د جلاوطنۍ نه راواپس شول. د هغوئ
ښځې او نران نوکران اووۀ زره درې سوه او اووۀ دېرش
کسان وُو، ښځې او نران موسيقاران دوه سوه وُو، آسونه
اووۀ سوه او شپږ دېرش وُو، قچرې دوه سوه او پينځۀ
څلوېښت وې، اوښان څلور سوه او پينځۀ دېرش وُو، خرونه
شپږ زره اووۀ سوه او شل وُو. ۶۸ کله چې جلاوطن شوی
کسان په يروشلم کښې د مالِک خُدائ کور ته راورسېدل، نو
د ډلو څۀ مشرانو رضاکارانه نذرانې د دې دپاره ورکړې چې
د مالِک خُدائ کور په خپل زوړ ځائ کښې بيا جوړ کړی.
۶۹ هغوئ چې د دې کار دپاره څومره نذرانې ورکولے
شوې نو هغه هومره يې ورکړې او ټول پينځۀ سوه کلو سرۀ
زر، دوه زره او اتۀ سوه کلو سپين زر او د اِمامانو دپاره سل
چُوغې ورکړې. ۷۰ اِمامان، ليويان او څۀ خلق په يروشلم
کښې يا د دې سره نزدې دېره شول، موسيقاران، د مالِک
خُدائ د کور څوکيداران او د مالِک خُدائ د کور خِدمتګاران
په نزدې ښارونو کښې دېره شول، او باقي نور بنی اِسرائيليان
په هغه ښارونو کښې دېره شول چرته چې د هغوئ پلار نيکۀ
اوسېدلی وُو.

## د عبادت بيا شروع کېدل

۳ ۱ په اوومه مياشت کښې ټول بنی اِسرائيل په خپلو
خپلو ښارونو کښې دېره شول. بيا هغوئ ټول په يروشلم کښې
په اتفاق سره راغونډ شول، ۲ او د يوصدق زوئ يشوَع، د
هغۀ ملګرو اِمامانو او د شلتی‌اېل زوئ زرُبابل سره د خپلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رشته‌دارانو، د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک قربان‌ګاه بیا جوړه
کړه، نو چې هغوئ په دې باندې د هغه اصُولو په مطابق
قربانۍ وسوزوی کوم چې د موسیٰ په شریعت کښې لیکلے
شوی وُو، موسیٰ د خُدائ پاک خِدمتګار وو. ۳ اګر چې د
جلاوطنۍ نه واپس راتلونکی کسان بیا هم د هغه خلقو نه
یرېدل کوم چې په هغه مُلک کښې اوسېدل، هغوئ قربان‌ګاه
په هغه ځائ کښې بیا جوړه کړه چرته چې مخکښې ولاړه وه.
بیا هغوئ یو ځل بیا په هغې باندې د هر سحر او هر ماښام
نذرانې سوزول شروع کړل. ۴ هغوئ د اصُولو په مطابق د
جونګړو اختر وکړو، هغوئ هره ورځ د هغه ورځې مقررې
قربانۍ پېش کولې، ۵ او د دې نه علاوه هغوئ د هرې
ورځې سوزېدونکې نذرانې هم پېش کولې او هغه نذرانې یې هم
پېش کولې چې د نوې میاشتې په اختر او په کلنی اخترونو
کښې پېش کېدلې چې په دې اخترونو کښې به د مالِک خُدائ
عبادت کېدلو، او هم داسې هغه ټولې نذرانې هم پېش کېدلې
کومې چې مالِک خُدائ ته په رضاکارانه توګه ورکولے
شوې. ۶ اګر چې خلقو تر اوسه پورې د مالِک خُدائ د
کور بنیاد جوړول هم شروع کړی نۀ وُو، خو هغوئ د اوومې
میاشتې په اوله ورځ مالِک خُدائ ته قربانۍ سوزول شروع
کړل.

## د مالِک خُدائ کور دوباره جوړول

۷ خلقو د کاڼو ګِلکارانو او ترکاڼانو د مزدورۍ دپاره پیسې
ورکولې او خوراک، څښاک او د زیتُونو تېل یې د صور او
صیدا خلقو له لېږل او د دې څیزونو په بدل کښې د لبنان د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غرونو نه د دِيار لرګى د يافا ښار ته د سمندر په ذريعه
راوړلے کېدل. دا هر څۀ د فارس د بادشاه خورس په اجازت
سره کېدل. ٨ د هغې نه پس چې هغوئ په يروشلم کښې د
مالِک خُدائ د کور ځائ ته واپس راغلى وُو نو د هغه کال په
دويمه مياشت يې کار شروع کړو. زرُبابل، يشوَع او د هغۀ
نور وطنداران، اِمامان او ليويان او هغه ټول خلق په کار
کښې شامل شول کوم چې د جلاوطنۍ نه يروشلم ته واپس
راغلى وُو. هغه ټول ليويان چې د هغوئ عُمر شل کاله يا د
دې نه زيات وو هغوئ د مالِک خُدائ د کور د بيا جوړېدو
مشران مقرر شول. ٩ ليوى يشوَع او د هغۀ زامنو او
خپلوانو او د هُوداوياه د قبيلې قدمى‌ايل او د هغۀ زامنو د
مالِک خُدائ د کور په بيا جوړېدو کښې په شريکه مشرى
کوله. د هغوئ مدد د حنداد د قبيلې ليويانو هم کولو. ١٠
کله چې ګِلکارانو د مالِک خُدائ د کور بنياد کېښودل شروع
کړل، نو اِمامان په خپلو ځايونو باندې ولاړ وُو، چُوغې يې
اغوستې وې او بيګل د هغوئ په لاسونو کښې وُو او د آسف د
قبيلې ليويان د چمټو سره هلته ولاړ وُو. هغوئ د مالِک
خُدائ ثناء صِفت د هغه اصُولو په مطابق کولو کوم اصُول
چې داؤد بادشاه ښودلى وُو. ١١ هغوئ وار په وار د مالِک
خُدائ ثناء صِفت کولو، ”مالِک خُدائ مهربان دے او د بنى
اِسرائيلو سره د هغۀ مينه د هميشه دپاره ده.“ هر چا به په
اوچت آواز سره د مالِک خُدائ ثناء صِفت کولو، ځکه چې د
مالِک خُدائ د کور د بنياد کار شروع شوے وو. ١٢ چې
کله د مالِک خُدائ د دې کور بنياد کېښودے شو نو کومو
ډېرو بوډاګانو اِمامانو، ليويانو او د ډلو مشرانو چې د مالِک
خُدائ هغه ورومبے کور ليدلے وو، نو په چغو يې وژړل. خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هلته نور کوم خلق وُو هغوئ د خوشحالۍ نه چغې وهلې.
۱۳ څهٔ خلقو د خوشحالۍ نه چغې وهلې او څهٔ خلقو ژړا
کوله، او هغوئ دومره شور کولو چې تر لرې لرې پورې
اورېدلے شو او هيچا ته پته نهٔ لګېده چې څوک ژاړی او
څوک خوشحاله دی.

## د خُدائ پاک د کور د بيا جوړېدو مخالفت

۴ ۱ د يهوداه او بنيامين د خلقو دشمنان د دې نه خبر
شول چې کوم خلق د جلاوطنۍ نه راواپس شوی دی نو
هغوئ د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک کور بيا
جوړوی. ۲ نو هغوئ د زرُبابل او د ډلو مشرانو سره
مِلاوېدو له راغلل او ورته يې ووئيل، ”د مالِک خُدائ په کور
جوړولو کښې به مونږ هم درسره ملګری شُو. مونږ هم د هغه
خُدائ پاک عبادت کوُو د کوم چې تاسو کوئ، مونږ هغهٔ ته
قربانۍ پيش کوُو د اسور بادشاه اسرحدون د وخت نه چا
چې مونږ دلته د اوسېدو دپاره راولېږلو.“ ۳ نو زرُبابل،
يشوَع او د ډلو مشرانو هغوئ ته ووئيل، ”مونږ ته د مالِک
خُدائ زمونږ د خُدائ پاک په کور جوړولو کښې ستاسو د
مدد هيڅ ضرورت نشته. مونږ به دا په خپله جوړوُو هم هغه
شان چې څنګه د فارس بادشاه خورس حُکم راکړے دے.“
۴ او چې کوم خلق په هغه مُلک کښې اوسېدل نو هغوئ دا
کوشش کولو چې يهوديان بې‌حوصلې کړی او د مالِک خُدائ
د کور جوړولو نه يې ويروی. ۵ هغوئ د فارس د حکومت
آفسرانو له د دې دپاره رشوت هم ورکولو چې د هغوئ خِلاف
کار وکړی. هغوئ د فارس بادشاه خورس په ټوله بادشاهۍ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې داسې کول او هغوئ د فارس بادشاه داریوس د
بادشاهۍ شروع کېدو پورې دا کار نهٔ پرېښودو.

## د یروشلم د بیا جوړېدو مخالفت

٦ د اخسویرس بادشاه د بادشاهۍ په شروع کښې، د
یهوداه او یروشلم خلقو دشمنانو د هغوئ خِلاف یو لیکلے
شوے اِلزام راوړو. ٧ یو ځل بیا د فارس بادشاه ارتخششتا
په دوران کښې، بِشلام، مِتردات، طابئیل او د هغوئ ملګرو
بادشاه ته یو خط ولیکلو. هغه خط په آرامی ژبه کښې لیکلے
شوے وو او بیا د بادشاه دپاره ترجمه کړے شو. ٨ رحُوم
حکمران او د صُوبې منشی شِمسی هم د یروشلم په حقله
ارتخششتا بادشاه ته دا خط ولیکلو، ٩ ”د حکمران رحُوم،
د صُوبې منشی شِمسی، د هغوئ د ملګرو، قاضیانو او د
نورو ټولو آفسرانو نه، کوم چې د عیلام په مُلک کښې د ارک،
بابل او د سوسه سړی دی، ١٠ د هغه نورو خلقو په شمول
کوم چې عظیم او عزتمند اسوربنی‌پال د خپلو کورونو نه
بوتلل او د سامریه په ښار کښې او د فرات سیند نمرپرېواتهٔ
طرف ته سامریه کښې په نورو ځایونو کښې یې دېره کړل.“
١١ په خط کښې داسې لیکلے شوی وُو، ”د فرات سیند
نمرپرېواتهٔ په طرف د هغهٔ د خِدمتګارانو نه، ارتخششتا
بادشاه ته. ١٢ بادشاه سلامت، مونږ تا خبرول غواړُو چې
هغه یهودیان کوم ستا د نورو علاقو نه راغلی دی هغوئ په
یروشلم کښې دېره شوی دی او هغه خراب او سرکشه ښار
بیا جوړوی. هغوئ د دېوالونو بیا جوړول شروع کړی دی او
ډېر زر به یې تیار کړی. ١٣ بادشاه سلامت، کهٔ دا ښار بیا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ شي او د دې دېوالونه سر ته ورسيږي، نو خلق به
محصُول، جزيه او پيسې ورکول بند کړی او ستا شاهی
محصُول به کم شی. ۱۴ نو بادشاه سلامت، مونږ ستا
وفادار يُو او مونږ نۀ غواړُو چې د بادشاه دې داسې بې‌عزتی
وشی، نو دا ځکه مونږ بادشاه له دا خبر ورلېږلے دے، ۱۵
چې تۀ دا حُکم ورکړه چې هغه تاريخ دې ولټولے شی کوم
چې ستا پلار نيکۀ ليکلے وو. نو بيا به تا ته پته ولګی چې دا
ښار هميشه د بغاوت نه ډک وی او د پخوانی وختونو نه دې
بادشاهانو او د صُوبو حکمرانانو له تکليف ورکړے دے. د
دې په خلقو باندې حکومت کول هميشه مشکل وُو. نو په دې
وجه دا ښار تباه شوے وو. ۱۶ نو په دې وجه زمونږ دا
يقين دے کۀ دا ښار بيا جوړ شی او د دې دېوالونه مکمل
شی، نو بادشاه سلامت، د فرات سيند نمرپرېواتۀ طرف ته
صُوبه به ستا د قابو نه بهر شی.“ ۱۷ نو بادشاه دا جواب
ورولېږلو، ”رحُوم حکمران، د صُوبې منشی شِمسی او د
هغوئ هغه ملګرو ته چې کوم په سامريه کښې اوسيږی او د
فرات سيند نمرپرېواتۀ طرف ټولو خلقو ته، سلامونه. ۱۸
کوم خط چې تاسو رالېږلے دے هغه لوستلے شوے دے او
زما په وړاندې ترجمه شوے دے. ۱۹ ما حُکم وکړو چې
تفتيش دې وکړے شی او دا خبره معلومه کړے شوې ده
چې يروشلم بې‌شکه د پخوا نه د بادشاهانو خِلاف بغاوت
کولو او دا د باغيانو او سرکشه خلقو نه ډک وو. ۲۰ هلته
طاقتورو بادشاهانو بادشاهی کړې ده او د فرات سيند
نمرپرېواتۀ طرف ته په ټوله صُوبه يې حکومت کړے دے او
جزيه، محصُول او پيسې يې راټولولې. ۲۱ نو په دې وجه تۀ
به فرمان جاری کړې چې ترڅو پورې ما بل حُکم نۀ وی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درکړے نو هغه خلق دې د ښار په جوړولو باندې کار بند
کړی. ۲۲ دا کار سمدستی وکړئ چې داسې زما فائدې ته
نور تاوان ونهٔ رسیږی.“ ۲۳ نو څنګه چې د ارتخششتا
بادشاه خط رحُوم، شِمسی او د هغوئ ملګرو ته ولوستلے
شو، نو هغوئ یروشلم ته تېز لاړل او یهودیان یې دې ته مجبور
کړل چې د ښار بیا جوړول بند کړی.

## د خُدائ پاک کور دوباره جوړول

۲۴ نو د خُدائ پاک په کور باندې کار بند وو او د فارس
بادشاه داریوس د بادشاهۍ تر دویم کال پورې کار ځنډولے
شوے وو.

۵ ۱ په هغه وخت کښې دوه پېغمبران حجی او د عدو
زوئ زکریاه وُو. هغوئ په یهوداه او یروشلم کښې اوسېدونکو
یهودیانو له د بنی اِسرائیلو هغه خُدائ پاک په نوم پېشګوئې
ورکوله چې کوم د هغوئ دپاسه وو. ۲ کله چې د شلتیاېل
زوئ زرُبابل او د یوصدق زوئ یشوَع د هغوئ پېغام واورېدو،
نو هغوئ په یروشلم کښې د خُدائ پاک د کور بیا جوړول
شروع کړل او د خُدائ پاک هغه دوه پېغمبران د هغوئ سره
وُو او د هغوئ مدد یې کولو. ۳ نو د نمرپرېواتهٔ طرف ته
فرات حکمران تتنی، شتربوزنی او د هغوئ ملګری آفسران
سمدستی یروشلم ته راغلل او وې وئیل، ”تا له دا حُکم څوک
درکوی چې دا کور بیا جوړ کړه او سر ته یې ورسوه؟“ ۴
هغوئ د هغه ټولو سړو د نومونو تپوس هم وکړو کومو چې د
دې په جوړولو کښې مدد کولو. ۵ خو په یهودی مشرانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې د خُدائ پاک نظر وو او د فارس آفسرانو دا فېصله
وکړه چې تر هغې پورې به يو کار هم نۀ کوی چې ترڅو يې
داريوس بادشاه له خط نۀ وی لېږلے او جواب يې نۀ وی
راغلے. ٦ هغوئ داريوس بادشاه له دا خبر ورولېږلو، ٧
”داريوس بادشاه ته ډېر ډېر سلامونه. ٨ بادشاه سلامت، تا
ته دې پته وی چې مونږ د يهوداه صُوبې ته ورغلو او ومو
ليدل چې د عظيم خُدائ پاک کور د لويو کاڼو او په دېوالونو
کښې د لرګو د ستنو سره بيا جوړېږی. کار د ډېر احتياط
سره کولے شی او ډېر ښۀ روان دے. ٩ مونږ بيا د خلقو د
مشرانو نه تپوس وکړو چې مونږ ته ووائی چې هغوئ له دا
اختيار چا ورکړے دے چې د خُدائ پاک کور بيا جوړ کړی
او سر ته يې ورسوی. ١٠ مونږ د هغوئ د نومونو تپوس هم
وکړو نو چې داسې مونږ تا خبر کړُو چې د دې کار مشران
څوک دی. ١١ هغوئ مونږ له جواب راکړو چې مونږ د
آسمان او زمکې د خُدائ پاک خِدمتګار يُو او مونږ هغه کور
بيا جوړوُو کوم چې په اصل کښې ډېره موده مخکښې د بنی
اِسرائيلو يو تکړه بادشاه جوړ کړے وو او سر ته يې رسولے
وو. ١٢ خو زمونږ پلار نيکۀ د آسمان خُدائ پاک غصه کړو
نو په دې وجه هغوئ يې د بابل بادشاه نبوکدنضر ته
پرېښودل، چا چې دا کور وران کړو او خلق يې بابل ته
جلاوطن کړل. ١٣ خو بيا چې کله خورس بادشاه د بابل
بادشاه شو نو د هغۀ د بادشاهۍ په وړومبی کال، خورس دا
حُکم وکړو چې د خُدائ پاک کور دې بيا جوړ شی. ١٤ هغۀ
د خُدائ پاک په کور کښې د سرو زرو او سپينو زرو لوښی
بيا کېښودل کوم چې نبوکدنضر د خُدائ پاک د کور نه اوړی
وُو چې هغه کور په يروشلم کښې وو او په بابل کښې يې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادتخانه کښې اېښې وُو. خورس بادشاه دا لوښې د يو سړی
په حواله کړل چې د هغهٔ نوم شيسبضر وو، کوم چې هغهٔ د
يهوداه حکمران مقرر کړے وو. ۱۵ بادشاه هغهٔ ته ووئيل
چې دا يوسی او په يروشلم کښې يې د خُدائ پاک کور ته
واپس کړی او هغه کور په هغه ځائ باندې بيا جوړ کړی چې
چرته مخکښې وو. ۱۶ نو شيسبضر راغلو او د دې بنياد يې
کېښودو، د دې جوړېدل د هغه وخت نه واخله تر ننه پورې
جاری وُو، خو د خُدائ پاک کور تر اوسه پورې مکمل شوے
نهٔ دے. ۱۷ نو بادشاه سلامت، کهٔ ستا خوښه وی نو د بابل
شاهی تاريخ دې ولټولے شی نو دا به معلوم شی چې خورس
په يروشلم کښې د خُدائ پاک د کور د بيا جوړولو حُکم
ورکړے وو او کهٔ نه، او بيا مونږ خبر کړه چې په دې معامله
کښې ستا خوښه څهٔ ده.“

## د خورس د فرمان بيا جاری کېدل

۶ ۱ نو داريوس بادشاه حُکم جاری کړو چې د بابل هغه
شاهی تاريخ دې ولټولے شی کوم چې په خزانه کښې ساتلے
شوے وو. ۲ خو د مادی صُوبې په اکبتانا ښار کښې يو
طومار پيدا شو، چې دا ليکل په کښې شوی وُو، ۳ ”د
خپلې بادشاهئ په وړومبی کال خورس بادشاه حُکم وکړو
چې په يروشلم کښې دې د خُدائ پاک کور بيا جوړ کړے
شی چې هغه يو داسې ځائ وی چرته به چې قربانئ کيږی او
نذرانې به سوزولے شی. د خُدائ پاک کور به تقريباً دېرش
ګزه اوچت او دېرش ګزه پلن جوړولے شی. ۴ دېوالونه به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې جوړولے شی چې درې ردې د لويو کاڼو وی او په يوه
رَده کښې د لرګى تختې لګولے شوی وی. دا ټوله خرچه به
شاهی خزانه ورکوی. ٥ نبوکدنضر بادشاه چې په يروشلم
کښې د خُدائ پاک د کور نه کوم د سرو زرو او سپينو زرو
لوښی بابل ته اوړی وُو نو هغه به هم د خُدائ پاک کور يعنې
خپل صحيح ځائ ته راواپس کولے شی کوم چې په يروشلم
کښې دے."

## د داريوس د خُدائ پاک د کور په حقله فرمان جاری کول

٦ نو بيا داريوس بادشاه دا جواب ورولېږلو، "دا د
نمرپرېوانۀ طرف ته فرات حکمران تتنی، شتربوزنی او د
نمرپرېوانۀ طرف ته فرات ستا آفسرانو ته دے، چې تاسو به د
خُدائ پاک د کور سره کار نۀ ساتئ ٧ او د دې په جوړېدو
کښې کار مۀ ساتئ. د يهوداه حکمران او يهودی مشران
پرېږدئ چې هغوئ د خُدائ پاک کور هلته جوړ کړی چرته
چې مخکښې ولاړ وو. ٨ او دې سره زۀ تاسو له حُکم
درکوم چې د يهوداه د مشرانو مدد وکړئ چې دا بيا جوړ
کړی. هغوئ له به د پوره خرچې دپاره د شاهی خزانې پيسې
ورکولے شی چې د نمرپرېوانۀ طرف ته د فرات د محصُول
نه اخستے شی، د دې دپاره چې کار ايسار نۀ شی. ٩ بغير
د څۀ کمی نه، هره ورځ تاسو به په يروشلم کښې اِمامانو له
هغه هر څۀ ورکوئ چې هغوئ ته د څۀ ضرورت وی، چې
هغه سخی، ګډې، يا ګډُوری وی، چې د آسمان خُدائ پاک ته
د قربانۍ په توګه سوزولے شی، يا چې هغه غنم، مالګه، مے،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یا د زیتُونو تېل وی. ۱۰ نو چې داسې هغوئ هغه قربانۍ
پېش کړی په کومو باندې چې د آسمان خُدائ پاک رضا
کیږی او زما او زما د زامنو دپاره د هغهٔ نه برکت غواړی.
۱۱ زهٔ بل دا حُکم کوم کهٔ څوک هم دا حُکم ونهٔ منی، نو د
هغهٔ کور نه به د لرګی تیر راوویستلے شی، د هغې یو سر دې
تېرهٔ کړے شی او په هغې دې ووژلے شی. او د هغهٔ کور دې
د ډېران یو ډېرے جوړ کړے شی. ۱۲ هغه خُدائ پاک چا
چې یروشلم د دې دپاره خوښ کړے دے چې هلته به د هغهٔ
عبادت کیږی نو کهٔ کوم بادشاه یا قوم د دې حُکم نه اِنکار
وکړی یا د دې کور د تباه کولو کوشش کوی نو خُدائ پاک
دې ورله شکست ورکړی. ما داریوس دا حُکم کړے دے او
دا حُکم دې پوره ومنلے شی.“

## د خُدائ پاک د کور وقف کېدل

۱۳ بیا تتنی حکمران، شتربوزنی او د هغوئ آفسرانو هم هغه
شان وکړل چې څنګه داریوس بادشاه حُکم کړے وو. ۱۴
یهودی مشرانو د خُدائ پاک د کور عمارت په ښهٔ طریقه
جوړولو، چې د هغوئ حوصله افزائی حجی او زکریاه
پېغمبرانو کوله. هغوئ د خُدائ پاک کور هم هغه شان سر ته
ورسولو لکه څنګه چې د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک حُکم کړے
وو او خورس، داریوس او د فارس بادشاه ارتخششتا فرمان
جاری کړے وو. ۱۵ هغوئ د خُدائ پاک کور د داریوس
بادشاه د بادشاهۍ په شپږم کال کښې د ادر میاشتې په درېمه
ورځ سر ته ورسولو. ۱۶ بیا بنی اِسرائیلو، اِمامانو او لیویانو
او هغه نورو ټولو خلقو په خوشحالۍ سره د خُدائ پاک کور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وقف کړو کوم چې د جلاوطنۍ نه راواپس شوی وُو. ۱۷ د
وقف کولو دپاره هغوئ سل غوَیی، دوه سوه ګډان او څلور
سوه ګډُوری د قربانۍ په توګه پېش کړل او دولس چېلې يې د
ګناه د نذرانې په توګه پېش کړل چې د بنی اِسرائيلو د هرې
يوې قبيلې دپاره يو يو وو. ۱۸ هغوئ په يروشلم کښې د
خُدائ پاک د کور د خِدمت دپاره اِمامان او ليويان د هغه
اصُولو په مطابق منتخب کړل کوم چې د موسیٰ په کِتاب
کښې ليکلے شوی وُو.

## د فسحې اختر

۱۹ کوم خلق چې د جلاوطنۍ نه راواپس شوی وُو نو هغوئ
په وړېسې کال د اولې مياشتې په څوارلسمه ورځ د فسحې
اختر وکړو. ۲۰ ټولو اِمامانو او ليويانو خپل ځانونه پاک
کړی وُو او د پاکېدو رسم يې ادا کړے وو. ليويانو د فسحې د
اختر د قربانۍ دپاره د ټولو راواپس شوو خلقو، د اِمامانو او
د خپلو ځانونو دپاره څاروی حلال کړی وُو. ۲۱ دا قربانۍ
هغه ټولو بنی اِسرائيلو وخوړلې چې څوک د جلاوطنۍ نه
راواپس شوی وُو او ورسره هغه خلقو هم وخوړلې چا چې د
غېرو قومونو غلط رسمونه پرېښی وُو د دې دپاره چې د
مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک عبادت وکړی. ۲۲
هغوئ د خوشحالۍ سره اووهٔ ورځې د پتيرې روټۍ اختر
وکړو. هغوئ ډېر خوشحاله وُو ځکه چې مالِک خُدائ د
اسور بادشاه په هغوئ باندې مهربان کړے وو، نو په دې
وجه هغهٔ د هغوئ په کار کښې مدد وکړو چې د بنی اِسرائيلو
د خُدائ پاک کور جوړ کړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د عزرا يروشلم ته رسېدل

٧ ١ ډېره موده پس، کله چې ارتخشستا د فارس بادشاه
وو، نو يو سړے وو چې نوم يې عزرا وو. هغهٔ خپله شجره
نسب مشر اِمام هارون ته ورسوله، چې داسې ده: عزرا د
شراياه زوئ وو چې هغه زوئ د عزرياه، زوئ د خِلقياه، ٢
زوئ د سلوم، زوئ د صدوق، زوئ د اخيطوب، ٣ زوئ د
امرياه، زوئ د عزرياه، زوئ د مرايوت، ٤ زوئ د زرخياه،
زوئ د عُزى، زوئ د بُقى، ٥ زوئ د ابيسوع، زوئ د
فينحاس، زوئ د اِلىعزر او زوئ د هارون څوک چې مشر
اِمام وو. ٦-٧ عزرا يو عالِم وو، هغه په هغه قانون باندې
ښهٔ پوهېدو کوم چې مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک
موسىٰ له ورکړے وو. ځکه چې د عزرا سره د مالِک خُدائ د
هغهٔ د خُدائ پاک برکت وو، هغهٔ چې څهٔ هم غوښتل نو
بادشاه ورله ورکول. د ارتخشستا د بادشاهۍ په اوۀم کال،
عزرا د بنى اِسرائيلو د يوې قبيلې سره د بابل نه يروشلم ته په
سفر روان شو، چې په هغې کښې اِمامان، ليويان، د خُدائ
پاک د کور موسيقاران او څوکيداران او کاريګر شامل وُو.
٨-٩ هغوئ د اولې مياشتې په اوله ورځ د بابل نه روان
شول او د خُدائ پاک د مدد سره هغوئ د پينځمې مياشتې په
اوله ورځ يروشلم ته ورسېدل. ١٠ عزرا خپل ژوند دې ته
وقف کړے وو چې د مالِک خُدائ په قانون باندې پوهه شى،
په هغې عمل وکړى او د دې ټول قانون او اصُول بنى
اِسرائيلو ته وښائى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ارتخشَشتا بادشاه عزرا له ورکړے شوے کاغذ

۱۱ ارتخشَشتا عزرا اِمام او عالِم له دا کاغذ ورکړو، چې
هغهٔ د هغه قانون او حُکمونه پوره پوهه لرله کوم چې مالِک
خُدائ بنى اِسرائيلو ته ورکړی وُو، ۱۲ ”د ارتخشَشتا بادشاه
د طرف نه، عزرا اِمام ته، چې هغه د آسمان د خُدائ پاک د
قانون عالِم دے، ډېر سلامونه. او اوس، ۱۳ زهٔ دا حُکم کوم
چې زما په ټول سلطنت کښې چې کوم بنى اِسرائيليان،
اِمامان او ليويان چې د هغوئ زړهٔ غواړی چې تا سره
يروشلم ته لاړ شی نو لاړ دې شی. ۱۴ زهٔ، تا زما د خپلو
اووهٔ مشيرانو سره لېږم چې په يروشلم او يهوداه کښې
حالات معلوم کړئ چې دا پته ولګی چې ستا د خُدائ پاک په
قانون باندې څومره ښهٔ عمل کيږی، هغه قانون چې تا سره
موجود دے. ۱۵ تاسو به د ځان سره د سرو زرو او سپينو
زرو هغه نذرانې يوسئ د کومو چې زهٔ او زما مشيران د بنى
اِسرائيلو خُدائ پاک له د ورکولو خواهش لرو، هغه خُدائ
پاک چې د هغهٔ کور په يروشلم کښې دے. ۱۶ تاسو به هغه
ټول سرهٔ زر او سپين زر هم د ځان سره اوړئ کوم چې تاسو
د بابل په ټوله صُوبه کښې راغونډ کړئ او هغه نذرانې به هم
اوړئ کومې چې بنى اِسرائيليان او د هغوئ اِمامان په يروشلم
کښې د خپل خُدائ پاک کور دپاره ورکوی. ۱۷ تاسو به دا
پېسې په احتياط سره خرچ کوئ او غوَيی، ګډان او ګډُوری،
غله او مے په بيعه واخلئ او په يروشلم کښې يې د خُدائ
پاک د کور په قربانګاه باندې پيش کړئ. ۱۸ کوم سرهٔ زر
او سپين زر چې پاتې شی نو چې ستا او ستا د خلقو هر
خنګه خوښه وی نو هغه شان يې استعمالولے شئ، خو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک د رضا په مطابق. ١٩ تاسو به په يروشلم کښې
خُدائ پاک ته هغه ټول لوښی پېش کوئ کوم چې د خُدائ
پاک د کور د خِدمت د استعمال دپاره درکړے شوی دی.
٢٠ او تاسو ته چې د خُدائ پاک د کور دپاره د بل هر څيز
ضرورت وی، نو تاسو هغه د شاهی خزانې نه اخستلے شئ.
٢١ زۀ د فرات سيند د نمرپرېواتۀ صُوبې د خزانې ټولو
آفسرانو له حُکم ورکوم چې هغوئ د عالِم عزرا اِمام دپاره د
هغه هر څۀ ښۀ بندوبست وکړی چې هغه يې غواړی، عزرا د
آسمان د خُدائ پاک په قانون کښې عالِم دے، ٢٢ د دې حد
به د درې زره او څلور سوو کلو سپينو زرو، د لسو زرو کلو
غنمو، دوه زره ليټره مے او دوه زره ليټره د زيتُونو تېلو
پورې وی او چې داسې څومره د مالګې ضرورت وی. ٢٣
تاسو به خامخا د هغه هر څۀ په بندوبست کولو کښې د
احتياط نه کار اخلئ چې د آسمان خُدائ پاک يې د خپل کور
دپاره غوښتنه کوی او پام کوئ چې هغه ما ته او هغه کسانو
ته هيڅکله غصه نۀ شی کوم چې زما نه پس بادشاهی کوی.
٢٤ تاسو ته د دې اجازت نشته چې د اِمامانو، ليويانو،
موسيقارانو، څوکيدارانو، کاريګرو، يا د بل هر هغه چا نه
محصُول، جزيه او پېسې واخلئ چې د چا تعلق د خُدائ پاک
د دې کور سره وی. ٢٥ عزرا، تۀ به د هغه حِکمت نه کار
اخلې کوم چې ستا خُدائ پاک درکړے دے، تۀ به اِنتظام
کوونکی او قاضيان مقرروې چې په هغه ټولو خلقو باندې
حکومت کوی چې د فرات سيند نمرپرېواتۀ طرف ته د خُدائ
پاک د قانون لاندې ژوند تېروی. تۀ به هغه هر چا ته دا قانون
ښائې چې څوک ورباندې نۀ پوهېږی. ٢٦ کۀ هر څوک هم
ستا د خُدائ پاک د قانون يا د بادشاه د قانون نافرمانی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی، نو هغهٔ له به هم په هغه وخت سزا ورکولے شی، چې
وژلے به شی، یا به جلاوطن کړے شی، یا به د هغهٔ نه
جائیداد ضبط کولے شی، یا به قېد کولے شی.“

## د عزرا د خُدائ پاک ثناء صِفت کول

٢٧ عزرا وفرمائیل، ”د مالِک خُدائ زمونږ د پلار نیکهٔ د
خُدائ پاک ثناء صِفت دې وی. هغهٔ بادشاه دې ته راضی
کړے دے چې په دې طریقه باندې په یروشلم کښې د مالِک
خُدائ د کور درناوی وکړی. ٢٨ د خُدائ پاک په فضل سره
په ما باندې بادشاه، د هغهٔ مشیران او د هغهٔ ټول طاقتور
آفسران مهربان شوی دی، مالِک خُدائ زما خُدائ پاک ما له
حوصله راکړې ده او زهٔ د دې قابل شوے یم چې د بنی
اِسرائیلو د ډلو ډېر مشران دې ته جوړ کړم چې زما سره
راواپس شی.“

## د جلاوطنۍ نه راواپس شوی خلق

٨ ١ دا د هغه ډلو د مشرانو تفصیل دے کوم چې په بابل
کښې جلاوطن وُو او چې هغوئ د عزرا سره په هغه وخت
کښې یروشلم ته راواپس شول چې په کوم وخت کښې
ارتخششتا بادشاه وُو: ٢-١۴ د فینحاس د قبیلې جیرسوم،
د اِتمر د قبیلې دانیال، د داؤد د قبیلې د سکانیاه زوئ
حطوش، د پرعوس د قبیلې زکریاه، چې د خپلې قبیلې یو نیم
سل سړی ورسره وُو. د هغوئ د پلار نیکهٔ نسب‌نامه موجود
وه. د پخت موآب د قبیلې د زرخیاه زوئ الیهوعینی، چې دوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوه سړی ورسره ؤُو، د زتُو د قبیلې، د یحزیایل زوئ
سکانیاه چې درې سوه سړی ورسره ؤُو، د عدین د قبیلې د
یونتن زوئ عبید، چې پنځوس سړی ورسره ؤُو، د عیلام د
قبیلې د عتلیاه زوئ یشعیاه، چې اویا سړی ورسره ؤُو، د
سفطیاه د قبیلې د میکائیل زوئ زبدیاه، چې اتیا سړی ورسره
ؤُو، د یوآب د قبیلې د یحیایل زوئ عبدیاه، چې دوه سوه او
اتلس سړی ورسره ؤُو، د بانی د قبیلې د یوسفیاه زوئ
سلومیت، چې یو سل او شپېتهٔ سړی ورسره ؤُو، د ببی د
قبیلې د ببی زوئ زکریاه، چې اتهٔویشت سړی ورسره ؤُو، د
عزجاد د قبیلې د حقاطان زوئ یوحانان، چې یو سل او لس
سړی ورسره ؤُو، د ادونِقام د قبیلې الیفلط، یعیایل او
سمعیاه، چې شپېتهٔ سړی ورسره ؤُو، هغوئ په وروستو
وخت کښې راواپس شول، د بِګوئ د قبیلې عوتی او زکور،
چې اویا سړی ورسره ؤُو.

## د عزرا د خُدائ پاک کور دپاره د لیویانو لېږل

۱۵ ما د هغه نِهر سره تولهٔ ډله راغونډه کړه کوم چې د اهاوا
ښار ته بهیږی او مونږ هلته درې ورځې خېمې لګولې وې. ما
ولیدل چې هلته په ډله کښې اِمامان ؤُو، خو لیویان نهٔ ؤُو.
۱۶ نو ما دا نههٔ مشران راوغوښتل: اِلیعزر، اریایل،
سمعیاه، الناتن، یریب، الناتن، ناتن، زکریاه او مسلام او دوه
عالمان یویریب او الناتن مې هم راوغوښتل. ۱۷ ما هغوئ په
کسیفیا کښې د قبیلې مشر عدو ته ولېږل، چې هغهٔ او د هغهٔ د
قبیلې نه د خُدائ پاک د کور دپاره کاریګر وغواړی او مونږ
له داسې خلق راولېږی چې د خُدائ پاک په کور کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خِدمت وکړی. ۱۸ د خُدائ پاک په فضل سره هغوئ مونږ
له يو تکړه سړے سربياه راوليږلو، چې دے د محلی د قبيلې
ليوے وو او اتلس زامن او ورونړه د هغهٔ سره راغلل. ۱۹
هغوئ د مراری قبيلې حسبياه او يشعياه هم د هغوئ د شلو
خپلوانو سره راوليږل. ۲۰ د دې نه علاوه د خُدائ پاک د
کور دوه سوه او شل داسې خِدمتګاران هم وُو چې داؤد
بادشاه او د هغهٔ آفسرانو د هغوئ پلار نيکهٔ د دې دپاره مقرر
کړی وُو چې د ليويانو مدد کوی. او د هغوئ ټولو نومونه
ليکلے شوی وُو.

## د خلقو روژه نيول

۲۱ هلته د اهاوا نِهر سره ما ټولو له دا حُکم ورکړو چې
روژه ونيسئ او د خپل خُدائ پاک په وړاندې خپل ځانونه
عاجزان کړئ او هغهٔ ته سوال وکړئ چې په سفر کښې زمونږ
مدد وکړی او زمونږ، زمونږ د بچو او زمونږ د مال دولت
حِفاظت وکړی. ۲۲ زهٔ په دې باندې شرميدلم چې د بادشاه
نه مې يو لښکر او په آسونو سوارهٔ فوجيان غوښتی وے چې
زمونږ د سفر په دوران کښې د دشمنانو نه زمونږ حِفاظت
وکړی، ځکه چې ما هغهٔ ته وئيلی وُو چې زمونږ خُدائ پاک
هغه هر چا له برکت ورکوی چې څوک ورباندې ايمان لری،
خو هر څوک چې د هغهٔ نه واوړی نو د هغوئ نه خفه کيږی
او سزا ورکوی. ۲۳ نو مونږ روژه ونيوله او خُدائ پاک ته
مو سوال وکړو چې زمونږ حِفاظت وکړی او هغهٔ زمونږ
سوال قبول کړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خُدائ پاک کور دپاره نذراني

۲۴ د مشرانو اِمامانو نه ما سربياه، حسبياه او لس نور
کسان خوښ کړل. ۲۵ بيا ما هغه سپين زر، سرۀ زر او
لوښى وتلل کوم چې بادشاه، د هغۀ مشيرانو او د هغۀ آفسرانو
او بنى اِسرائيلو د دې دپاره راکړى وُو چې د خُدائ پاک په
کور کښې استعمال شى او ما دا اِمامانو له ورکړل. ۲۶-۲۷
ما دا څيزونه هغوئ له ورکړل: دوويشت ټنه سپين زر، سل د
سپينو زرو لوښى چې د دې ټول وزن اويا کلو وو، درې زره
او څلور سوه کلو سرۀ زر، شل د سرو زرو جامونه چې
تقريباً اتۀ نيم کلو وُو، دوه د زېړو ښائسته جامونه، چې په
قيمت کښې د سرو زرو د جامونو برابر وُو. ۲۸ ما اِمامانو
ته ووئيل، "تاسو مالِک خُدائ ستاسو د پلار نيکۀ خُدائ پاک
ته وقف او مقدس شوى يئ او داسې هغه ټول سپين زر، سرۀ
زر او لوښى هم ستاسو په شان مقدس دى کوم چې هغۀ ته د
رضاکارانه نذرانو په توګه راوړلے شوى دى. ۲۹ د مالِک
خُدائ کور ته تر رسېدو پورې د دې ښۀ حِفاظت وکړئ. هلته
د اِمامانو په کوټه کښې دا وتلئ او د مشرانو اِمامانو او د
ليويانو او په يروشلم کښې د بنى اِسرائيلو مشرانو ته يې حواله
کړئ." ۳۰ نو اِمامانو او ليويانو د هغه سپينو زرو، سرو زرو
او د لوښو ذمه وارى واخستله چې په يروشلم کښې يې د
مالِک خُدائ کور ته يوسى.

## يروشلم ته واپس کېدل

۳۱ دا د اولې مياشتې دولسمه ورځ وه چې مونږ يروشلم ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تلو دپاره د اهاوا نِهر نه روان شُو. زمونږ خُدائ پاک مل وو
او چې مونږ سفر کولو نو مونږ يې د دشمن د حملو نه او د
ډاکوانو نه بچ کولو. ۳۲ کله چې مونږ يروشلم ته ورسېدو،
نو مونږ درې ورځې آرام وکړو. ۳۳ او بيا په څلورمه ورځ
مونږ د خُدائ پاک کور ته لاړو او هغه سپين زر، سرۀ زر او
لوښى مو وتلل او د اورِياه زوئ مريموت اِمام ته مو حواله
کړل. د هغۀ سره اِلىعزر، د فينحاس زوئ او دوه ليويان، د
يشوَع زوئ يوزبد او د بِنوئى زوئ نوعيدياه هم وو. ۳۴ هر يو
څيز وشمېرلے شو او تللے شو او په هغه وخت پوره
حِساب کِتاب وشو. ۳۵ بيا هغه ټولو خلقو نذرانې راوړې
کوم چې د جلاوطنۍ نه راغلى وُو چې د بنى اِسرائيلو خُدائ
پاک ته د قربانۍ په توګه وسوزولے شى. هغوئ د ټولو بنى
اِسرائيلو دپاره دولس غوَيى، څلور کم سل ګډان، اووۀ اويا
ګډُورى پېش کړل، هغوئ دولس چېلى هم پېش کړل چې خپل
ځانونه د ګناه نه پاک کړى. دا ټول ځناور مالِک خُدائ ته د
قربانۍ په توګه وسوزولے شول. ۳۶ هغوئ هغه ليکلے
شوے فرمان هم راوخستلو کوم چې بادشاه ورکړے وو او
هغه يې حکمرانانو او د نمرپرېواتۀ طرف فرات ته د صُوبې
آفسرانو له ورکړو، چې هغوئ بيا د هغه خلقو سره او د
خُدائ پاک د کور سره مدد وکړو.

## د عزرا د غېريهوديانو سره د ودونو نه خبرېدل

۹ ۱ کله چې دا هر څۀ وشول نو د بنى اِسرائيلو څۀ
مشران راغلل او ما ته يې ووئيل چې خلقو، اِمامانو او ليويانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځانونه د ګاونډی مُلکونو يعنې عمون، موآب، مِصر،
کنعان، حِتی، فرزی، يبوس او اموری مُلک د خلقو نه جدا نۀ
ساتل. دوئ هم هغه حرام کارونه کول چې کوم هغه خلقو
کول. ۲ يهوديانو سړو د پردی مُلک ښځو سره ودونه کول،
نو په دې وجه د خُدائ پاک مقدس خلق پليت شول. د
افسوس خبره دا ده چې مشران او آفسران په دې بدعملئ
کښې د هر چا نه وړاندې وُو. ۳ کله چې زۀ د دې نه خبر
شوم نو ما د خفګان نه خپل قميص او چُوغه وشلوله، د سر
او د ږيرې ويښتۀ مې وويستل او غم زپلے کښيناستم. ۴
نو څوک چې د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک د کلام په وجه
يرېدلی وُو ځکه چې هغوئ د جلاوطنئ نه راواپس خلقو د
نافرمانئ نه خبر شول هغوئ ټول راغلل او زما سره
کښيناستل. او زۀ هلته د ماښام د قربانئ د وخت پورې
سخت خفه ناست وم. ۵ کله چې د ماښام د نذرانې وخت
راغلو نو زۀ چې د خفګان نه چرته ناست وم د هغه ځائ نه
پاڅېدم، چې تر اوسه پورې مې شلېدلے قميص او چُوغه
اغوستې وه سجده مې وکړه او بيا مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک ته مې لاسونه پورته کړل. ۶ ما وئيل، ”خُدايه پاکه، ما
له په دې باندې ډېر سخت شرم راځی چې ستا په حضور
کښې خپل لاسونه اوچت کړم. زمونږ ګناهونه زمونږ د سرونو
نه پاس اوړېدلی دی او زمونږ ګناهونه تر آسمانه پورې
رسېدلی دی. ۷ زمونږ د پلار نيکۀ د وخت نه واخله تر
اوسه پورې مونږ يعنې ستا خلقو لوئې ګناهونه کړې دی.
زمونږ د خپلې ګناه په وجه مونږ، زمونږ بادشاهان او زمونږ
اِمامان د پردی مُلک بادشاهانو له په لاس ورغلی يُو او مونږ
وژلے شُو، غلا رانه کيږی او د قېديانو په توګه بوتلے شُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ ډېره بې‌عزتی شوې ده لکه څنګه چې تر اوسه پورې
بې‌عزته یُو. ٨ خو اے مالِکه خُدایه، زمونږ خُدایه پاکه، تهٔ د
لږ وخت دپاره په مونږ مِهربانه يې چې زمونږ څهٔ کسان دې
ژوندی پرېښی دی چې د غلامۍ نه وتښتی او په دې مقدس
ځائ کښې په حِفاظت سره اوسيږی. تا مونږ د غلامۍ نه آزاد
کړی یُو او یو نوے ژوند دې راکړے دے. ٩ مونږ غلامان
وُو، خو تا مونږ په غلامۍ کښې پرې نهٔ ښودو. تا د فارس
بادشاهان مونږ سره ښهٔ کړل او دا اجازت دې راکړو چې
خپل ژوند تېروو او ستا هغه کور بيا جوړ کړُو، کوم چې تباه
شوے وو او دې ته دې هم پرېښودو چې په يهوداه او يروشلم
کښې مونږ ته حِفاظت مِلاو شی. ١٠ خو اے خُدایه پاکه، نو
مونږ په دې کښې څهٔ ووایو؟ مونږ ستا د حُکمونو بيا نافرمانی
کړې ده، ١١ هغه حُکمونه کوم چې تا مونږ له د خپلو
خِدمت کوونکو پېغمبرانو په ذريعه راکړی وُو. هغوئ مونږ ته
ووئيل چې مونږ د کوم مُلک قبضه کولو له روان یُو هغه
مُلک د هغه خلقو د بد عملی په وجه ناپاک وو کوم چې په
کښې اوسېدل او هغوئ دا د يو سر نه تر بله سر پورې د
بې‌شرمۍ او حرام کارونو نه ډک کړے وو. ١٢ هغوئ مونږ
ته ووئيل چې مونږ دې هيڅکله د هغه خلقو سره ودونه ونهٔ
کړُو او نهٔ د هغوئ سره د ښهٔ کېدو او کامیابېدو دپاره مدد
وکړُو دا د دې دپاره چې هغه خيزونه مونږ ته مِلاو شی چې په
هغه مُلک کښې پيدا کيږی او چې دا مُلک به زمونږ اولاد ته په
ميراث کښې مِلاو شی. ١٣ خو اوس چې مونږ ته زمونږ د
ګناه او بدۍ په وجه چې کومه سزا مِلاو شوه، مونږ ته دا پته
ده زمونږ خُدایه پاکه، چې تا مونږ له د هغې نه کمه سزا
راکړې ده چې د څومره مونږ حقدار وُو او زمونږ څهٔ خلق
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې ژوندی پرېښی دی، ۱۴ نو بیا مونږ ستا حُکمونه څنګه
مات کړُو او هغه حرام کاره خلقو سره ودونه وکړُو؟ کۀ مونږ
داسې وکړُو نو تۀ به دومره غصه شې چې تباه به مو کړې او
یو کس به هم ژوندے پرې نۀ ږدې. ۱۵ مالِکه خُدایه، د بنی
اِسرائیلو خُدایه پاکه، تۀ صادق یې، خو تا مونږ پرېښودو چې
ژوندی پاتې شُو. مونږ په ګناه کښې ستا په وړاندې ولاړ یُو،
خو د دې ګناه په وجه زمونږ یو کس هم دا حق نۀ لری چې
ستا حضور ته راشی.“

## د غېرو قومونو د ښځو سره د ودونو ختمول

۱۰ ۱ کله چې عزرا د خُدائ پاک د کور په مخکښې
پړمخې پرېوتو، چې هغۀ ژړل او د ګناهونو اِقرار یې کولو، نو
د بنی اِسرائیلو یوه لویه ډله د هغۀ نه راتاو شوه چې په کښې
سړی، ښځې او ماشومان شامل وُو او بد بد یې ژړل. ۲ د
عیلام قبیلې د یحی‌ایل زوئ سکانیاه عزرا ته ووئیل، ”د غېرو
قومونو د ښځو سره ودونه کولو په وجه مونږ د خُدائ پاک
سره بې‌وفائی کړې ده، خو بیا هم د اِسرائیل دپاره اُمید شته.
۳ نو چې اوس مونږ د خپل خُدائ پاک سره دا لوظ وکړُو
چې مونږ به دا ښځې طلاقې کړُو او سره د ماشومانو به یې
وشړُو. مونږ به هم هغه شان وکړُو چې څنګه تۀ او هغه نور
کسان مشوره راکړئ چې کوم د خُدائ پاک د حُکمونو
درناوے کوی. چې د خُدائ پاک قانون څۀ مطالبه کوی نو
مونږ به هم هغه شان کوُو. ۴ اوس پاڅه، دا خبره ستا په
لاس کښې ده. مونږ به ستا ملګرتیا کوُو، نو تکړه شه او دا
کار وکړه.“ ۵ عزرا پاڅېدو او د اِمامانو د مشرانو، لیویانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ټولو بنی اِسرائيلو نه يې دا قسم واخستو چې هغوئ به د
سکانياه په مشوره باندې عمل کوی. نو داسې هغوئ قسم
وکړو. ٦ بيا هغه د خُدائ پاک د کور د مخې نه لاړو او د
اِلياسب زوئ يهوحنان کوټې ته ورننوتلو، هلته يې شپه تېره
کړه او د جلاوطنۍ خلقو په بې‌وفايۍ يې خفګان کولو، او په
دې وجه يې خوراک څښاک نۀ کولو. ٧ ټول يروشلم او
يهوداه ته يو پېغام ولېږلے شو چې هغه ټول خلق دې په
يروشلم کښې راغونډ شی چې کوم د جلاوطنۍ نه راواپس
شوی دی، ٨ دا د خلقو د مشرانو حُکم وو. کۀ څوک په
درېو ورځو کښې رانۀ غلو، نو د هغۀ ټول جائيداد به ضبط
کړے شی او نور به دا حق نۀ لری چې هغه د جلاوطنو د
قبيلې نه وګڼلے شی. ٩ په درېو ورځو کښې، د نهمې
مياشتې په شلمه ورځ، هغه ټول سړی يروشلم ته راغلل کوم
چې د يهوداه او بنيامين په علاقه کښې اوسېدل او د خُدائ
پاک د کور د جرګې په ځائ کښې راغونډ شول. او په هغه
وخت کښې دروند باران ورېدلو، د باران او د دې مسئلې په
وجه هر يو کس رېږدو. ١٠ عزرا اِمام ودرېدو او هغوئ ته
يې وفرمائيل، "تاسو بې‌وفا وئ او د غېرو قومونو د ښځو
سره د ودونو په وجه مو بنی اِسرائيليان ګناهګار کړی دی.
١١ نو اوس مالِک خُدائ د خپل پلار نيکۀ خُدائ پاک ته د
خپلو ګناهونو اِقرار وکړئ او هغه کار کوئ چې هغه پرې
رضا کېږی. د پردی مُلک د هغه خلقو نه خپل ځانونه جدا
کړئ چې کوم زمونږ په مُلک کښې اوسېږی او د غېرو
قومونو د ښځو نه ځان خلاص کړئ." ١٢ نو ټولې ګڼې په
جواب کښې چغه کړه، "تۀ صحيح خبره کوې او چې څۀ
وائې نو مونږ به هغه هر څۀ وکړُو." ١٣ خو هغوئ دا هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئيل، "ګڼه ډېره لويه ده او دا د باران موسم دے. مونږ دلته
په داسې کولاو ځائ کښې نۀ شُو ودرېدے. دا داسې کار نۀ
دے چې په يو دوو ورځو کښې وشی، ځکه چې په دې ګناه
کښې زمونږ ډېر کسان شامل دی. ١٤ زمونږ آفسران دې
زمونږ ټولو په ځائ کار وکړی. بيا هغه هر يو دې چې د غېر
قوم ښځه لری هغه دې په يو مقرر وخت باندې د مشرانو او د
خپل ښار د قاضيانو سره راشی. نو د دې معاملې په حقله به
د خُدائ پاک قهر سوړ شی." ١٥ صرف د عساهيل زوئ
يونتن، د تِقوه زوئ يحزياه د دې منصوبې مخالفت وکړو،
مسلام او يو ليوی سبتی ورسره په دې کښې ملګری وُو. ١٦
د جلاوطنۍ نه راواپس شوو کسانو دا منصوبه منظوره کړه،
نو عزرا اِمام د ډلو د مشرانو نه سړی مقرر کړل او د هغوئ
نومونه يې وليکل. د لسمې مياشتې په وړومبۍ ورځ هغوئ
تفتيش شروع کړو، ١٧ او په وريسې درېو مياشتو کښې
هغوئ د هغه ټولو معامِلو معلومات وکړو چې کومو سړو د
غېرو قومونو د ښځو سره ودونه کړی وُو.

## هغه سړی چې د غېرو قومونو ښځې يې وادۀ کړې وې

١٨ دا د هغه سړو نومونه دی چا چې د غېرو قومونو ښځې
کړې وې، د هغه اِمامانو نومونه د قبيلې په حِساب سره
ليکلے شوی دی: د يشوَع ډله او د هغۀ د وروڼو چې د
يوصدق زامن وُو: معسياه، اِلیعزر، يريب او جدلياه. ١٩
هغوئ دا قسم وکړو چې خپلو ښځو له به طلاق ورکړی او د
خپلو د ګناه د تاوان د نذرانو دپاره يې د يو يو ګډ نذرانه پېش

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړه. ۲۰ د اِمیر ډله: حنانی او زبدیاه، ۲۱ د حارِم ډله:
معسیاه، الیاس، سمعیاه، یحیٰ‌ایل او عُزیاه، ۲۲ د فشحور
ډله: الیوعینی، معسیاه، اِسمٰعیل، نتنی‌ایل، یوزبد او اِلعاسه،
۲۳ لیویان: یوزبد، سِمعی، قلایاه (چې قلیتاه هم بللے شو)،
فتحیاه، یهوداه او اِلی‌عزر، ۲۴ موسیقاران: اِلیاسب، د خُدائ
پاک د کور څوکیداران: سلوم، طلم او اوری، ۲۵ نور
کسان: د پرعوس ډله: رمیاه، یزیاه، مُلکیاه، میامین، اِلی‌عزر،
مُلکیاه او بنایاه. ۲۶ د عیلام ډله: متنیاه، زکریاه، یحی‌ایل،
عبدی، یریموت او الیاس، ۲۷ د زتُو ډله: الیوعینی، اِلیاسب،
متنیاه، یریموت، زاباد او عزیزا، ۲۸ د ببی ډله: یهوحنان،
حننیاه، زبی، عتلی، ۲۹ د بانی ډله: مسلام، ملوک، عدایاه،
یسوب، سیال او یریموت، ۳۰ د پخت موآب ډله: عدنا،
کُلال، بنایاه، معسیاه، متنیاه، بضلی‌ایل، بِنوئی او منسی، ۳۱-
۳۲ د حارِم ډله: اِلی‌عزر، یسیاه، مُلکیاه، سمعیاه، شمعون،
بنیامین، ملوک او سمریاه، ۳۳ د حاشوم ډله: متنی، متتاه،
زاباد، الیفلط، یریمی، منسی او سِمعی. ۳۴-۳۷ د بانی ډله:
معدی، عُمرام، اُوایل، بنایاه، بدیاه، کلوه، ونیاه، مریموت،
اِلیاسب، متنیاه، متنی او یعسو، ۳۸-۴۲ د بِنوئی ډله: سِمعی،
شلمیاه، ناتن، عدایاه، مکندبی، ساسی، شاری، عزرایل،
شلمیاه، سمریاه، سلوم، امریاه او یوسف، ۴۳ د نبو ډله:
یعی‌ایل، متتیاه، زاباد، زبینا، یدی، یوایل او بنایاه. ۴۴ دې هر
یو سړی د غیرو قومونو ښځې لرلې او د څۀ سړو د دې ښځو
نه بچی هم پیدا شوی وُو.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.